# مور د هسک ستوری ، د نړۍ رڼا ، د ټولنیز ژوند یوه زرینه پاڼه

(ناپېلیون بناپارت) وایي :

(مور په یوه لاس زانګو، زنګوي او په بل لاس جهان ښوروي.)

په رښتیا سره چې مور د ژوند ستره هستي او لویه شتمني ده .

د مور د ورین تندي ځلا او ښکلا لکه د سباوون سپینه رڼا  او د لمر وړانګې له ورایه ښکاري. د مور سپېڅلی او پاک زړګی د جنت باغ دی، چې په کې رنګارنګ ښکلي او ښایسته ګلونه خاندي، ټوکېږي، زرغونېږي او غوړېږي .

د مور په پټ او ښکاره زړګي کې د خوږ عمر ارمانونه، د رښتینې مینې ژور احساس، د زړه سواندۍ او خواخوږي رازونه، د پوهې او هوښیارتیا ډېوې او څراغ لکه د لمر او رڼو ستورو د روښانه او ځلانده رڼا په څېر ځلېږي او بلېږي .

مور د سبا هغه تکه سپینه لیکه او د بلو ډیوو رڼایي ده، چې په خپلو وړمو، وړانګو او شغلو یې په ټولنه کې تورې او تپې تیارې روښانه او رڼا کړېدي .

د مور په سپا او سوتره زړه کې د ښکلا، ښایست او جمال، هنر، فن او کمال، لویوالي او مشرتوب انځورونه له ورایه ښکاري.

مور جانې! ته هغه درنه، سپېڅلې، پتمنه او زړه سوانده مور یئ، چې د خپلې ډکې خولې پر خندا او د ځپانده او پاکې مینې او مهرباني په خوږه او پراخه غېږ کې دې، د کور او کاله کړۍ له مینې، وفا او محبت څخه ډکه ساتلې ده . لکه شمع ځان په اور سوزی، تر سحره بلېږې، خپل د کور او خونې خوا و شا ته رڼا راولې او خپل چاپیریال دې توود ، روښانه او ځلانده ساتلی دی.خپل خواږه او نازولي اولادونه دې د علم او پوهې په رڼا کې روزلي، پالل او پاڅولي دي .

مورجانې ! ته د خپل کور د کړۍ رڼا يې، ته د خپل ښکلي بڼ د غوړېدو او ټوکیدو د ګلونو او شین فصل د روغې او سالمې پالنې، ښوونې او روزنې اغېزمنه مالیاره یئ.

مور جانې! ته په ټولنه کې هغه لویه هستي یئ، چې ستا په نیازبین زړګي کې د احساس او انساني عواطفو انځورونه له ورایه ځرګندېږي .

مور جانې : تر دې لوړ پوړۍ او مقام نور نشته چې جنت ستا تر پښو لاندې دی.

زما درنې او پتمنې مورې ! لاسونه دې په ډېر درنښت او رښتینې مینې سره ښکلوم، نور ما ته هیڅ مه کوه خو راته وکړه دوعا.

مور جانې ! ته په ټولنه کې هغه لوی مقام لرې، چې ستا له روښنایي نه نړۍ رڼا شوې ده، ستا درنې او پتمنې ستې ته، پوهې او هوښیاري ته، ستا عزت، لویوالي، مشرتوب، برم، شان و شوکت ته درناوی او سلام، ستا لوړ او اوچت پوړۍ او مقام ته سر ټیټوم.

زما غیرتي او پتمنې مورې!  ته هغه سپیڅلې مور یئ ، چې د غیرت، مېړانې او زړورتیا وړمه دې هر لور ته ځلېږي او چلېږي او په خپله غیرتي او د عزت و ننګ په لویه او پراخه غېږ کې دې حق پالونکي زمریان ، توریالي او ننګیالي اتلان، ستر عالمان، نوښتګر، مخکښ او روڼ اندي لیکوال، ادیبان او شاعران پاللي، روزلي، پاځولي او پارولي دي.

زما خواخوږې مورې! دا نړۍ د خدای کور دی،  او ته د اسمان په زړه کې لکه سپینه سپوږمۍ بلېږې او ځلېږې. ته هغه درنه مور یئ، چې د ژوندانه ترخې او خوږې دې زغملي دي.

زما درنې او غیرتي مورې! ته د جنګ او جګړو په ډګر کې لکه غر په هسکه غاړه دریدلې یئ او د ټپیانو او ژوبل شویوو میړنو د ټپونو او زخمونو د رغیدلو په سوچ او خیال کې یئ .

مور جانې! ته هغه درنه، زړوره، با عزته او پتمنه مور یئ، چې د بندي توب او غلامۍ ځنځیرونه دې شوکولي او لوړ قدرتونه دې په شا ټمبولي او تیري کوونکي دې د خپلې خاورې شړلي دي، او د خپل لرغوني هیواد او هیواد والو او د خپل ښکلي او تاریخي تمدن او فرهنګ په ساتلو او د غیرت، نام او ننګ په لاره کې دې خپل د میړانې او سرښندنې کفن په سرو وینو رنګ کړیدی. ته هغه څوک یئ چې د خپلواکۍ، آزادۍ، د تړون او پیوستون، دسولې او روغې جوړې، د سوکاله او ګډ ژوند بېرغ دې تل ځواکمن او اوچت ساتلی دی .

زما ګرانې او درنې مورې! ته لکه د  تنکو ګلونو څانګه، نازولې، ښکلې د شرم او له حیا څخه ډکه څېره لرئ. ته زما د ژوندانه شمعه، څراغ، ډیوه او زما د زړه رڼا یئ. ستا په خوږه خوله کې د غوټۍ په شانته خندا ده او په کتلو کې دې د مینې او مهربانۍ خوندور رازونه نغښتي دي.

زما ګرانې او مهربانې مورې ! ستا هغه خوږې خاطرې او نه هیریدونکي یادونه نه شم هیرولئ، چې تل به دې په خپلو

خوږو خبرو کې ویل، موږ باید له واړه کوره راووزو، ځان له نړۍ سره اشنا کړو، له ځان او قام نه را اوچت شو له انسان سره اشنا شو.

تا به ویل، په خپل ژوند او په دې فاني نړۍ کې لکه غر په هسکه غاړه اوسېږه، له هغو زړونو ځارېږه چې په کې د هیواد او هیواد والو سره ژوره مینه نغښتې وي. ته باید د یو زړه سواندي او خواخوږي انسان په شان د خوارانو، غریبانو، کونډو، رنډو، بې وزلو، خوارو او وږو تږیو یتیمانو او د غم ځپلو انسانانو په غمونو، دردونو، ستونزو، کړاوونو او د دوی د داغلي، سوزیدلي زړونو سره وژاړئ او اوښکې ورسره تویې کړئ.

مور جانې! ته هغه مور یې، چې ستا سپاه او سُتره زړګی تر نړۍ لوی دی، ستا په خوږو خبرو کې خوند او رنګ او ویناوې دې له ملغلرو، ورمونو او ښوونو ډکې دي. ته هغه روښانده مور یئ چې له کتاب، علم، پوهې، اخلاق او ادب سره ځانګړې مینه لرئ او تل په سوچ او تفکر کې لاهو او ډوبه یئ. ته د لوړو اوصافو او اخلاقو په مشال رڼا یئ. او تل دې هڅه کړیده چې د ژوندانه کړاونو او ستونزو ته لار دې حل ولټوئ .

زما کړیدلې او پتمنې مورې! ته په تورو شپو کې لکه شمع بلیږې. ته د تورو تیارو بله رڼا یئ او په نیمه شپه کې د قناعت،

اطاعت، زغم، صبر او حوصلې په رڼا کې لکه روښانه ډیوه ځلیږي.

زما دردیدلې، سترې او ستومانه مورې ! ستا په ټپي او زخمي زړګي کې د ټولنیز ژوند بیلابیلې ستونزې، کړاوونه، دردونه، ستا په سینه او د زړه په هینداره کې د زړګي نارې سورې او ستا په خوږه ژبه کې ځګیروي او اسویلي او له احساس او عواطفو ډک پیغامونه له ورایه ښکاري.

مورجانې! کله چې زه ستا د تلپاتې مینې، زړه سواندۍ او مهربانۍ د سوچ او خیال په سمندر کې لاهو او ډوب شم، په رښتیا سره چې ته د ژوند هستي یئ، ته د رښتنولي او پت پالنې، د لویوالي او سرېتوب، د سرلوړي او با عزته ژوند سیمبول یئ.

اې زما پاکې او سپېڅلې مورې! ته د جنت هغه پرښته یې چې ستا په څېره، پوهې او زیرکتیا کې ، کلک هوډ او اراده، خوشالي، سوکالي او نیکمرغي پرته ده.

زما خوږیدلې، کړیدلې او غمجنې مورې !

زما سوی، ټپي، ژوبل او له وینې او غمه ډک زړه ستا د مړینې په ستر ویر کې غمجن، او ستا د غم په لمبو کې ستي په سور انګار دی. زما له سترګو د غم اوښکې څڅیږي . ستا نه ځار او

کربان شم، چې مرګي له مونږه کړې بې وخته جلا. ستا زغم او صبر، زړه سواندي او خواخوږي وه د زخمي زړونو دوا او درمل . دا يو څرګند حقيقت دی چې مور د کور رڼا او يوه ځانګړې اسماني ډالۍ ده . مور هغه څوک ده چې د وخت په تروږميو کې خپله لکه ډيوه سوځي خو په ټوله مينه او پيرزوينه د خپلې کورنۍ ژوند له تورو تيارو څخه ژغوري . په رښتيا سره چې د مور د رښتينې او سپيڅلې مينې ډيوه به د زمانې په تياره کې تل ځلانده او روښانه وي .

زما د سوي او ويرژلي زړګي، زړه سوانده او مهربانه مورې!

هغه وخت چې تا له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې، ستا غم ماته توره شپه وير او وا ويلا جوړ کړ، زړه مې خوږين او سوری سوری او له پرهارونو ډک شو. زما په زړه کې ستا د غم چيغه، وير او ژړا پرته ده او د غم باران اوربږي. زه خپل د وير او غم ډک زړه په ترخو سوچونو او انديښنو کې ، په ساندو، زګيرويوو او اوښکو تشوم . ستا د بيلتون او هجران په سور اور کې بې کچه سوزېږم او کړيږم.

دا منل شوی حقيقت دی چې مرګ او مړينه حق دی، خو ستا د مړينې سره تورو وريځو د غمجن توفان په وسيله د ټولنيز ژوند

په بيلابيلو برخو او د ادب، مينې او ښکلا په بڼ کې د بيلتون درانه او سوي داغونه ګډ کړل.

زما غم ځپلې په سرو وينو لمبيدلې مورې!

ته هغه سره لمبه د احساس، مينې او مهرباني وېئ چې د خپل سور او ګلګون کفن سره په ايرو کې پټه شوئ، خو وينه دې مسته او سرشاره ده پاڅون لري . ستا په مړستون او ډورۍ کې سرې جنډې ريپېږي، سرې سکروټې او ډيوې بلېږي او چاپېريال يې ټول ځراغان کړيدی.

زه د خپل لوی او سپېڅلي خدای (ج) لوړ حضور ته لاسونه پورته کوم چې ته پر هسکه غاړه د جنت په ځلو کې وګرځې. اې زما خورې، درنې او پتمنې مورې، اې زما د سترګو تورې ، اې زما د ولس مورې الله او مولا دې مل شه . په دې نړۍ کې ستا وياړلی ياد دې تل ژوندی او تلپاتې وي او اروا دې خوشاله او ښاده غواړم .

په ډير درنښت او مينه : انجنيرعبدالقادرمسعود